**وزارت مخابرات و تکنالوجی معلوماتی**
**ریاست دفتر مقام**
**مدیریت عمومی اطلاعات عامه**

==============================================================

**مطبوعاتی اعلامیه**

نیټه: 1391/9/07

**موضوع : د کارته نو د دیجیتل تلیفون پرانستل**

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ سکټور یو له مهمو سکتورو څخه شمیرل کیږي .دا سکتور د غړیزو، انځوریزو او معلوماتي(دیټا )سربیره د نورو سکتورونوپه پراختیا او وده کې مهم رول لري.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت له 10 کلونو راپه دېخوا د ښو مخابراتي او معلوماتي ټکنالوجۍ په موخه جدي او پیاوړي اقدامات کړي دي .د سیمداره ډیجیټل تلیفونونو د پروژې پراختیا د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت یو له مهمو او بنسټیزو پروژو څخه ده او له1385 کاال څخه راپه دېخوا یې تر لاس لاندې نیولې ده .چې تر دې دمخه د ا پروژه د مزار شریف او قندهار په ښارونو او د کابل ښار په مهتاب قلعه او دارالامان، مکرویانو،پلچرخي، خیرخانې مینې، خوشحال خان مینې، نوي ښار، ځلورمه کارته او تایمنی کې بشپړې او ګټه اخیستنې ته وړاندې شوي دي.دادی نن د تایمني د ډیجیټل تلیفونو پروژه د تایمني پروژې په مرکز کې تکمیل شوې ده او نن یې د افتتاح اوګټه اخیستنې شاهدان یو.

**د پروژې ظرفیت:**

د کارته نو په مرکز کې د ډیجیټل تلیفونونو ظرفیت 5000 لینه دی.

**د پروژې پلی کوونکی:**

پروژه د (استر )هندوستانۍ او د چین اوهایو کمپنیو له خوا د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت تر څارنې لاندې پلې شوې ده.

**د پروژې ارزښت:**

دکارته نو د ډیجیټل تلیفون دپراختیا پروژې لګښت 2 میلیونه ، دوه سوه او شپږ نوي زره امریکایي ډالرو ده چې د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوجۍ وزارت لخوا ورکړل شوې ده.

**تر پوښښ لاندې سیمه:**

د کارته نو د ډیجیټل پروژې دستګاه د کارته نو سربیره د شاه شهید، رحمن مینه، چمن حضوری او شاواخوا سیمې تر خپل پوښښ لاندې راولي ددې دستګاه ارتباطات له نورو دستګاه وو سره د نوري فایبر پواسطه تامینیږي.

**د پروژې ګټې:**

ددې پروژې په افتتاح کولو سره به ددې سمې خلک د دستګاه تر پوښښ لاندې راشي او د باکیفیته او ارزانه تیلیفوني تماسونو سربیره د ډیټا د تبادلې،انټرنیټی دایل اپ او په همدې ډول د DSL له لارې د چټک انټرنیټ سهولتونه برابر شي او د هیواد عواید کې به ددې پروژې د ډېرو تماسونو پر اساس ډیروالی راشي.

په درنښت

---


پته:
محمد جان خان واټ
کابل- افغانستان
دتیلفون شمیره 0202104129
ویب پاڼه: www.mcit.gov.af

Address:
Mohammad Jan Khan Watt
Kabul – Afghanistan
0202104129
Web Site: